**بسم الله الرحمن الرحيم**

## له حدیث شریف سره

## قضاوت

**(ژباړه)**

په دې اړه ابوداوود په خپل سنن کې له علي رضی الله عنه څخه روایت کړی:

**عَنْ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَام قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ قَاضِيًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ تُرْسِلُنِي وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ وَلَا عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ سَيَهْدِي قَلْبَكَ وَيُثَبِّتُ لِسَانَكَ فَإِذَا جَلَسَ بَيْنَ يَدَيْكَ الْخَصْمَانِ فَلَا تَقْضِيَنَّ حَتَّى تَسْمَعَ مِنْ الْآخَرِ كَمَا سَمِعْتَ مِنْ الْأَوَّلِ فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ الْقَضَاءُ قَالَ فَمَا زِلْتُ قَاضِيًا أَوْ مَا شَكَكْتُ فِي قَضَاءٍ بَعْدُ.**

***ژباړه:*** *له علي رضی الله عنه څخه روایت دی، چې هغه ویل؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن ته د قاضي په توګه ولېږلم، ما ورته وویل، اې رسول الله! ته په داسې حال کې ما لېږې چې زه نوی ځوان یم او د قضاوت په برخه کې پوهه نه لرم. هغه وفرمایل، ډېر ژر به الله ستا زړه ته لارښوونه وکړي او ژبه به دې ثابته کړي، کله چې ستا پر وړاندې دوه متخاصم (شخړه کوونکي) کېني، نو هېڅکله (د هغوی تر منځ) فیصله مه کړه تر څو چې د دویم (خبرې) دې د لومړي کس د (خبرو) په څېر نه وي اورېدلې، دا کار د قضاوت څرګندېدلو لپاره غوره دی. علي رضی الله عنه وفرمایل: له هغه وروسته زه تل قاضي وم او یا ویې فرمایل: له هغه وروسته زه په هېڅ قضاوت کې له شک او شبهې سره مخ نه شوم.*

د "عون المعبود" څښتن د دغه حدیث په اړه وایي: دا حدیث د دې لپاره دلیل دی، چې د حاکم لپاره د دعوا د دواړو اړخونو د دلیل له اورېدو او د قضیې د ټولو اړخونو په اړه د تفصیلاتو له غوښتلو وړاندې حکم صادرول حرام دي. شوکاني وایي: که چېرې حاکم په داسې حال کې حکم صادر کړي، چې د دعوې د دواړو اړخونو دلیل یې نه وي اورېدلی، نو حکم یې باطل دی او باید پلی نه شي، بلکې دا واجب دي چې خپل دغه حکم نقض کړي او بېرته یې په سم ډول صادر کړي او یا دا چې یو ځل بیا یې باید د بل حاکم په واسطه صادر کړي.

**قضاوت**: د الزام په توګه د یوې قضیې د حکم خبر ورکول دي. **د قضاء دستګاه**: د خلکو تر منځ خصومتونه (دعواګانې) حلوي یا د هغه څه مخه نیسي چې د ټولنې لپاره مضر وي او یا هغه شخړې حلوي چې د عامو خلکو

او يا د دولتي کسانو لکه؛ حکامو، د دولت د ساتونکو، خليفه او د هغه ترلاس لاندې کسانو تر منځ پېښېږي. د قضاوت په تعريف کې دغه درې ډوله قضاوت شاملېږي. د خصومتونو (شخړو) حل و فصل کول، احتساب او د مظالمو قاضي اړوند قضيو کې قضاوت کول.

قضاوت خپل مشروعيت له کتاب الله او سنتو څخه اخيستی دی: الله سبحانه و تعالی داسې فرمايي:

**﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ...﴾** [المائدة]

*ژباړه: د هغه څه پر اساس فيصله وکړه، چې الله نازل کړي دي.*

**﴿وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ..﴾** [النور]

*ژباړه: کله چې د هغوی تر منځ د فيصلې کړلو په موخه د الله او د هغه د رسول په لوري رابلل کېږي.*

رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله د قضاوت مسووليت پر غاړه درلود او د خلکو تر منځ يې قضاوت کاوه؛ همدارنګه له ځان پرته يې نور قاضيان هم ټاکلي دي. د بېلګې په توګه، معاذ بن جبل رضی الله عنه او علي رضی الله عنه يې قاضيان ټاکلي وو.

هغه څوک چې د قضاء مسووليت پر غاړه اخلي، دغه شرطونه بايد ولري؛ مسلمان، ازاد، بالغ، عاقل، عادل، فقيه او داسې څوک چې د پېښو اړوند د نازل شوو احکامو د درک توان ولري؛ مګر هغه څوک چې د مظالمو قضيو مسووليت پر غاړه اخلي، نو پر دغو شرطونو سربېره بايد نارينه او مجتهد هم وي.

**هغه کسان چې د قضاء مسووليت پر غاړه اخلي:**

1- قاضي: هغه څوک چې د خلکو تر منځ د خصومتونو (دعواوو) د حل و فصل مسووليت لري، يعنې په حقوقي او جزايي قضيو کې چې هغه معاملات او عقوبات دي. دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه عمل دی، چې معاذ بن جبل رضی الله عنه يې د يمن په يوه برخه کې او علي رضی الله عنه يې په يمن کې د قاضي په توګه وګومارل.

2- محتسب: دغه کس د هغو مخالفاتو د حل و فصل مسوولیت پر غاړه لري، چې د ټولنې حق ته زیان اړوي او دلیل یې هغه حدیث دی چې امام مسلم په خپل صحیح کې له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی:

**«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي»**

ژباړه: *رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوراکي موادو له ډېرې (کوټې) څخه تېرېده، خپل لاس یې پکې دننه کړ، چې ګوتې ګوتې یې نمجنې شوې او د خوراکي موادو څښتن ته یې وویل، دا نم د څه شي دی، هغه وویل یا رسول الله باران پرې شوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، نو ولې دې نمجنه برخه سر ته نه راوړې، چې خلک یې وویني. هغه څوک چې په کار کې یې فرېب وي، له ما (زما له امت) څخه نه دی.*

په همدغه ترتیب رسول الله صلی الله علیه وسلم پر هغه چا نیوکه وکړه او منعه یې کړ، چې فرېب یې کړی و؛ همدارنګه سوداګر ته یې امر کړی چې په بازار کې په صداقت سره تجارت وکړي. لکه څنګه چې امام احمد له قیس بن ابي عرزة کناني څخه داسې روایت کوي:

**«کنا نبتاع الأوساق بالمدينة، وكنا نسمّى السماسرة، قال: فأتانا رسول الله صلى الله عليه وسلم فسمانا باسم هو أحسن مما كنا نسمّي به أنفسنا فقال: يا معشر التجار، إن هذا البيع يحضره اللغو والحلف، فشوُبوه بالصدقة»**

*ژباړه: موږ په مدینه کې د پیمانه شوو بارونو د پېر او پلور کار کاوه او پر ځان مو د دلال نوم اېښی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ په لوري راغی او پر موږ یې تر هغه غوره نوم کېښود، چې مخکې موږ پر ځانونو اېښی و او ویې وفرمایل اې د سوداګرو ډلې! په معاملاتو کې لغو (یمین لغو) او حلف (قسم) راځي، نو هغه په صدقې سره له منځه یوسئ.*

3- د مظالمو قاضي: هغه څوک چې د دولت او خلکو تر منځ د شخړو د حل مسووليت لري، دليل يې د الله سبحانه وتعالی دغه قول دی:

**{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللَّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً} [نساء: ۵۹]**

*ژباړه: اې مومنانو! د الله اطاعت وکړئ او د رسول او خپل اولي الأمر اطاعت وکړئ، که چېرې ستاسو تر منځ د يو څه پر سر شخړه رامنځته شي، نو د حل لپاره يې الله او رسول ته وړاندې کړئ، که چېرې تاسو پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان لرئ، (الله او رسول ته د پرېکړې لپاره رجوع کول) ستاسو لپاره غوره دي او نېه پايله لري.*

همدارنگه په مسند احمد کې راغلي چې:

**«عَنْ أَنَسٍ قَالَ: غَلَا السِّعْرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ سَعِّرْ لَنَا فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّزَّاقُ وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى رَبِّي وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يَطْلُبُنِي بِمَظْلِمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ»**

*ژباړه:له انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې وايي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې نرخونه لوړ شول، نو خلکو وويل: اې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته قېمتونه وټاکئ. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل؛ د قېمتونو ټاکونکی، د رزق ورکوونکی، کموونکی او زياتوونکی الله سبحانه وتعالی دی، په دې هيله چې له الله سبحانه وتعالی سره په داسې حال کې مخ شم، چې په تاسو کې هېڅوک داسې نه وي، چې له ما څخه د وينې او يا مال په برخه کې د مظلمه غوښتنه وکړي.*

په هغه دستور (اساسي قانون) کې چې حزب التحرير د خلافت دولت لپاره ـ چې ژر به د الله په مرسته راشي ـ ترتيب کړی دی، راغلي چې: خليفه د قضاوت لپاره ځانگړې دستگاه جوړوي، چې په سر کې يې قاضی القضات وي؛ يعنې هغه څوک چې د اداري نظامونو په چوکاټ کې د قاضي د ټاکلو، مجازات کولو او عزل کولو صلاحيت لري او هغه څوک چې د قاضي او حاکم ټول شرطونه ولري؛ يعنې نارينه، مسلمان، بالغ، عاقل، ازاد، عادل او فقيه وي. که چېرې يې عمل په قضاء پورې محدود وي، نو دا بسنه کوي چې يوازې فقيه وي، مگر که چېرې خليفه دا

صلاحيت ورکړی وي، چې د مظالمو قاضي وټاکي او يا يې عزل کړي، نو په دې حالت کې بايد مجتهد هم وي او همدارنګه د مظالمو قاضي اړوند قضيو کې بايد د قضاوت صلاحيت هم لري.

دا هم روا دي چې د قاضي، محتسب او د مظالمو قاضي لپاره دې په عام ډول په ټولو قضيو او ټولو ښارونو کې صلاحيت ورکړل شي او همدارنګه دا هم روا دي چې دوی ته دې په ځانګړو قضيو او ځايونو کې د قضاوت کولو محدود صلاحيت ورکړل شي؛ دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم له عمل څخه اخيستل شوي دي، لکه څنګه چې علي رضی الله عنه يې په يمن کې د عام قاضي په توګه، معاذ بن جبل رضی الله عنه يې د يمن په يوه ځانګړې سيمه کې د قاضي په توګه او همدارنګه عمرو بن عاص يې په يوه ځانګړې قضيه کې د قاضي په توګه وټاکه.

دا په خلافت دولت کې د قضاء په اړه يوه لنډه خلاصه وه، مګر که څوک ډېر تفصيل غواړي، نو د حزب التحرير له منشوراتو څخه دې د «أجهزة دولة الخلافة في الحكم والإدارة» (په حکومت او اداره کې د خلافت دولت جهازونه) او دغه راز «مقدمة الدستور أو الأسباب الموجبة له» (د دستور شرحه او دلايل يې) کتابونو ته مراجعه وکړي.